مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۷/۱۴

# د عبرت ګذر ګاه

له سترګو مې د اوښکو دریابونه ، لکه باران ځي
چې وینمه له مخې مې ، څه خواږه خواږه یاران ځي

د عبرت نښې به نور څه وي ، ګذر ګاه کې د دنیا
یو په یو چې مو له مخې ، هره ورځې آشنایان ځي

پښیمانه د هفتو ، میاشتي ورځو او د کلَویم
ځکه هر لمحه د خولي نه مې ، آهونه او افغان ځي

بی قدری او بی ارزی کی ، ښه وختونه رانه تیر شول
چې د عمر په بازار کې ، اوس هر څه رانه ارزان ځي

په ویره ویره درومومم ، په هر ګرزوني ، او پیچومو
چې دیوان په قافلو کې ، په خیره کې د انسان ځي

چې په لاره تیریدل ، ښایسته ښایسته ، مخونه
اوس د وهم دي کوڅو کې ، اهرمن او شیطانان ځي

د عزلت په ګوټ کې ناست یم ، له هر څه نه بی پروا یم
خو قدرت د هنګامو پسې ، څو تنه نادانان ځي

هر مشرب د سر بازی ، د خود فروشو ، خاصه نه ده
د وطن په مینه مست هم ،څو بیخوده ، عاشقان ځي

لا به ډیری جنازې ، د معرفت دلته کې ، وشي
که تیارو کې مو د جهل ، د علم طالبان ځي

دښمنانو په خپل پوهه ، ښه وختونه مهار کړي
هر لمحه زمونږ له مخې ، فرصتونه د دوران ځي

دا آرمان به مو دسولي ، په هیڅکله پوره نشي
چې د اَمن فیصلې ته ، بیسواده شوده ګان ځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د ضمير او د وجـــدان له محكمی نه به ، خلاص نه شو
كه نا هيلي مـــو له دَر څخه ، بی وزلي او خواران ځي

د ګلـــــونو په اسـرارو پوهيدل هم ، كـــــرامت دی
پوهـــيدو د دغي رمـــز ته ، تل تر تله بلـــبلان ځي

دا چـــا راته وژلي ، دا د دي لارې مشـــــــــعلونه
چې په تورو تروږمو كې مو د هـــيلي كـــــاروان ځي

خاوندان د علــم وفـــن يي راته ټـــــوله زندئ كړي
خامخــــا به د قسمت و فيصـــلي ته ،ليونــــيان ځي

څوک مـعراج د انســـانيت هم، معرفت په رڼا غواړي
څوک له خپل جهل او جها لـته ، په لاره د حـــيوان ځي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ